مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۵/۱۰/۰۶

# نوی‌ځرک رالتوومه

سیلۍ نوې لګېدلې
وايي تل يم بدلونکې
زه پيغام يم د ژوندون
پراوو بل را اړومه
الوتونکي خيال وزر کې
ان تر وړاندې لټومه
هيلو ځرک ځرک
په هر لور کې
ښکته پوزته
سرګردانه، لالهاتده
انساني احساس
ژورې ته کښيوځم
خوړې سترګې را پرانيځم
د يتيم اوښکې وچومه
ولړه تنده راټولومه
تلونکي پوهه راګرځوومه
د وطن پر خړه خاوره
ستاسي سترګې تورومه
تورتمونو ته شا کړمه
د سهار سپيده چاود کې
سباوون راښورومه
لمر زرينو وړانګو ځل کې
د اسمان په غيږ کې وريځو
ټيل ماټيل را خبرومه
چې وربښت بيا ترې راشيوه شي
د باران له هر يو ځاڅکې
ښه توده ګنه شيبه شي
د بوډۍ په رنګين ټال کې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په سره خوږه وږمه کې
مهاجرو مرغکیو
په چغار کې د چینچړو
توراڼکو الوتو کې
لګ لګ ځي جوپه جوپه
د راتلونکو توتکیو
جوړولو کې د ځالو
سرې غوټۍ په وچیدلو
د بلبل غږ چوپ کیدلو
منې سوړ رارسبدلو
پاڼو شین رنګ واړولو
ونو زیړې، سرې جامې کړې
فصل یل را واوښتلو
هیلې نورې پنځوومه
نوی ژوند په تلوسه کې لټوومه
ولاړ حال نور بدلولمه
نوی ژوند را لیږدومه
بل پړاو را اړومه
تل داهسې زیار کوومه
نوی څرک رالټوومه
نوی څرک را لټوومه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ